AFGHAN GERMAN ONLINE
افغان جرمن آنلاین
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پروفیسور عبدالخالق ـ رشید د جواهرلال نهرو پوهنتون استاد ۲۰۱۹/۱۲/۰۲

# درانی احمد شاه د اوسنی افغانستان مؤسس
# او د پاني پت د تاريخي حماسې اتل

لومړۍ برخه



| |
|---|
| د دغې مقالې خلاصه په ۱۹۹۸ کال دهند دگجرات پوهنتون په بين المللی سيمينارکيولوستل شوه، دلته تولـه مقاله ديولړتاريخي اسنادوپه زياتي سره خپروم. |

زموږ لاسونه ، زموږ پګړۍ سرونه ،
له ډيره درده غمه ،
په زعفرانی رنګ زعفراني شوي وو ...
هلته چې موږه د دښنه جګړې ته ورغلي وو ...
اوموږ له پانی پت را وتښتيدو...
اوپاچاهي مو هلته پرېښودله ،
هلته مو بايلوله ...

شاعر: رودارد کيپلينګ ( له تښتيدلي پيشوا سره ډيلي ته مل )

=======================

**احمدشاه ابدالی (لوی احمدشاه بابا )** داوسنی افغانستان موسس په (۱۱۳۵ه) کال کی دهرات په تاريخي ښار چې د ابداليانو دواکمنی مرکزو، زيږيدلی دی (۱) دپلارنوم يی زمان خان دی چې هغه د دولت خان، سرمست

۱ _زموږدتاريخ يوشميرنامتو ليکوالو داحمدشاه دزيږيدومينه ملتان کښلی دی، چې يوليکوال په دغه برخه کی فيض محمدخان کاتب هم دی. خو يوشميرنورو لکه اروابناد غباراواروابناد پوهاند پوپلزايی بيا دهرات ښارليکلی دی.« ...احمدشاه ابدالی درسال مرگ پدرش زمان خان درشهرهرات متولد شد ۱۷۲۲ ... » (غبار، مسيرص ۳۵۴) « ... آن مجاهد ومدافع خاک افغانستان وازبطن علياجناب قمرنقاب زين



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيز بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

خان،شیرخان،خواجہ خضرخان،سدو خان(اسدالله خان) لہ کورنۍ سلسلې سره رابطه لري. هرات د ابدالیانو دواکمنی مرکزو چې تل بہ دپردیولہ خو ا کلہ لہ شمالہ ، کلہ لہ لویدیزه تریرغلونو لاندی راتہ، ان داحمدشاه ترزلمیتوب پورې دغہ ښار ددغہ مهال لہ خورا مهمو سیاسی نظامی اوفرهنگی مرکزونوڅخه شمیرل کیده. احمدخان دهمدغہ مهال دتاریخی اوسیاسی چاپیریال پہ لمنہ کی چې پلاراومشر وروریې ذوالفقارخان پہ هغو کی دپاملرنې وړدنده درلوده،دیوه نومیالی سرتیری پہ توگہ په افغانستان کې دعمل پہ میدان کی راوبریښید. یوشمیر توپیرونہ د ابدالیو اوغلجیو ترمیان پہ هغہ مهال چې اسدالله خان دهوتکی شاه محمود لہ خوا پہ دلارام کی ووژل شودخوابدۍ سبب شول همداوه چې کلہ زلمی احمدشاه کندهارتہ راورسید، نوبیا دکندهار دمشرهوتکی شاه حسین لہ خوا زندانی اونژدی شپږکالہ یی پہ هغہ زندان کی لہ خپل مشر ورور سره یوځای تیرکړل.
پہ ایران کی دفشارنادرپہ لاس دهوتکي امپراتورۍ پہ زوال سره یوواري بیا ددې لہ پاره لاره اواره شوه چې نادردې دابدالیانو مرستی تہ دغلجیوپہ مقابل کی لاس وراوږد کړي اوددوی لہ نفوذه دې په افغانستان اوسیمه کې کار واخلي. ذوالفقارخان سره لہ دی چې لہ هوتکی واکمنو یی هم ښه زړه نہ درلود، دنادر دیرغل پہ مقابل کی په میرانې سره ودریداودیرغلگرنادري پوځ پہ مقابل کی یی لہ هراتہ دننگی اودفاع کارتہ ملاوتړله ښایی لہ هغو زیاتو پلمو چې دی نادرونیو اوبیا یی لہ احمدخان سره یوځای ،اول زنداني اوبیا یې زهرورکړل. یوه همدغہ دده اتلوالي اوهیوادپالی مقاومت هم وي.
داحمدشاه دژوند اوواکمنی پہ باره کی پہ گرده نړۍ کې ډیرو لیکوالو اومورخینو زیاتی اودپاملرنی وړلیکنی کړې دي،چې زه دلتہ هغہ نہ تکراروم، یوازی داحمدشاه دکورنۍ پہ باره کې دمحمودالحسینی المنشی دتاریخ احمدشاهی یوه برخہ دلتہ پہ دی خاطرراالیکم چې هغہ داحمدشاهي دربار دگردو پیښوعینی شاهداودرباري منشی و،هغہ داحمدشاه ابدالي دشخصیت اوکارنامو پہ باب لیکی :
« مناسب چنان مینمایدکہ اول شمہ یی از علو نسب ذات بابرکات ولی نعمت خود اعلیحضرت احمدشاه درانی حسب الواقع درمعرض بیان آورم ، وهرچند پایہ قدرومنزلت این انضارالطاف الله ازآن بلند تراست کہ محتاج بااظهار نسب باشد.اصل آنحضرت ازبزرگان طوایف ایل جلیل درانی ازتیرسدوزایی ان کہ ریاست وسروری این طایفہ همیشہ ازتیرمزبور بدستور توره کہ درمیان سلاطین ترک وآل عمان وهندوستان وغیره معمول است ازآبای عظیم عظام واجداد کرام خود بہ میراث دارندوبعدازآن کہ اعلیحضرت احمدشاه درانی برتخت سلطنت وصاحب کلاهی تکیہ زدند باالهام ملهم غیبی ذات بابرکات آن حضرت بہ شاه دُردران وعموم این طایفہ کہ درركاب اشرف مصدر خدمات نمایان گردیده بود ملقب ومشهور بہ ایل جلیل درانی شدند. وازقدیم الایام ایل جلیل مزبوردر دارالقرار قندهاروزمینداوروطوبا وکوهستان های سمت قراباغ وغزنین خطۂ دلکشای کابل تابستان وزمستان را میگذرانیدندونسب فرخنده حسب این خدیوبک جناب بہ ارحام واصلاب سدو باین نهج اتصال می یابد..." (تاریخ احمد شاهی ، چاپ مسکو،۱۹۷۴ ص ۳۰)
دافغانستان نامتو مورخ اروابښادغبار پہ وینا : "... احمدخان دربیست سالگی درقشون نادرشاه داخل خدمت ودرمدت کوتاهی نظر بہ اهلیت ولیاقت کہ ازخود نشان داد مورد توجہ نادرقراگرفت."
همدارنگہ دیوه ایرانی لیکوال پہ قول : " احمد خان بہ زودی درشمارمقربان ونزدیکان نادرآمد وبہ مقام ایشک آقاسی باشی وسریساول خاصہ(یایساول حضور) وفرماندهی (یا نایب فرماندهی) دستہ افغانان اردوی نادری کہ عمدتاً ازابدالیان بودند، رسیدودرلشکرکشی های متعدد نادرشرکت جست ...(دانشنامہ ادب فارسی تهران طبع ۱۳۷۸ص ۴۹)

احمدشاه دنادرشاه دواکمنی پہ دوران کی پہ تیره بیا چې دی دهغہ نظام اوواکمنی یورکن و دسیمی اوجهان دگردو پیښو اوسیاسی نظامونو لہ جوړښته پہ تمامہ مانا ځان خبرکړی واوهغہ تجربی یی په خپل مخ کی کیښودې، کومې چې ترده پخوا پښتنو واکمنانو پہ افغاني فارس کی دخپلې واکمنی پرمهال هلته لیدلې اوتیرکړې وی، هغہ پرتمینی زمزمی چې پہ ایران کی لہ شاه محمود اواشرف غوندې نومیالیو واکمنانوده تہ ورپاتی وی. ترهغوچې دواک گدۍ تہ نہ و رسیدلی هغہ یی دیوی شیبی لہ پاره هم لہ یاده ونہ ایستی. داچې وایی ملتونہ لہ خپلوتاریخونو سره ژوند کوي اوپرهغو ژوندی وی، ځوان احمدشاه هم یولہ هغو زلمو څخه وچې دوختو اوشیبو پہ انتظارکیناست. پہ ۱۱۶۰ کال نادررانسکورشو، خو احمدشاه ابدالي بیاهم دخپلو افغانی دودونوافغانی پرتم اووفا لہ مخی دهغو غلواوداړه مارو فارسیانو پہ مقابل کی چې دغیرافغانی ایرانی پوځ برخہ وو، مقاومت وکا، اودهغوی د زیات وحشت مخہ یی ونیوه لکہ چې پہ دی باب ایرانی لیکوال لیکلې : " د۱۱۶۰ق کال دجمادی الاول دمیاشتی پہ یوولسمہ خبوشان قوچان تہ نژدی دنادرلہ مرگ سره سم دده پہ لوی لښکرکې چې له بیلابیلو قومونوڅخه جوړشوی و دچوراوچپاول پہ خاطر یوه ښکاره الہ گولہ را پیداشوه ، دوی کوشش وکاوه چې شاهی شتمی گرده لوټ کړي اوپرهمدی کارباندی بوخت

المستورات تاج المخدرات مسمات زرغونہ سلطان درانی پسری درسنہ ۱۱۳۵ق (درارگ) هرات بوجود آمد...» (وکیلی پوپلزایی ، احمدشاه وارث ومجدد امپراطوری افغانستان طبع کابل ۱۳۵۹ ص۹)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شول، دافغانانو یوه ډله چی مشري یی نورمحمدخان غلجایي کوله ،په دغه وخت کی احمدخان وکولای شول چې په پوره جرات اورشادات سره دخپلې ډلې پاملرنه دغه حالت ته ور واړوي اوپه دغه ترڅ کی یی عملاً هرڅه په خپل لاس کی ونیول اوخپله وفاداری یی نادراودهغه کورنی ته ثابته کړه، دخپل نمک حق یی هیرنه کا اوپه زغرده یی دچپاولګرانو په مقابل کی په مقابلی پیل وکا..." (دانشنامه ، پادشوی اثر، ۴۹مخ)
احمدشاه ابدالي کولای شول ، چی په هم هغه پیل کی دفارس اوافغانستان پاچاهي ترلاسه اوخپله واکمنی پری اعلان کړي، لکه چی په راوروسته کی همداسی هم وشول. خودايي دخپلې تجربی په پام کی نیولو سره سمه ونه بلله چی په دغه ناپایدارکاربانډی دی سمدلاسه لاس پوری کړي، له فارسه کندهارته راغی، دلته یی دافغانستان دعام ولس په خوښه اوهیله دشیرسرخ جرګه جوړه اوله هغی لاری یي دافغانستان دګردو قومونوداستازو په غوښتنه اوهیله د۱۱۲۶لمریز کال چی د ۱۱۶۰ق کال درجب له (۲۱) سره برابره وه ، دغه نومیالی افغان دافغانستان واکمنی د دراني احمدشاه په نامه دافغان ولس په مرسته اوغوښتنه ترلاسه اوددغه هیواد (افغانستان ) واکمن شو.
داوسني افغانستان پرواکمنی بانډې داحمدشاه دُراني غوره کیدل،یوه تصادفی خبره نه وه، همدارنګه احمدشاه لکه چی په لنډوکي ویل کیږي یوازی دشیرسرخ دجرګی محصول اوبریاهم نه و چی باید یوازی پرهغی بانډی بسنه وشی. بلکی دا یوه خبره باید ددغه لوی واکمن په باب په پام کی ونیول شی اوهغه داچي احمدشاه پرملی اوافغاني ضرورت برسیره د آسیا له پاره هم یوعیني ضرورت و.د مارکسستی علمي - تاریخي تحلیلونوله مخي دآسیا عینی اوذهنی حالت هم ددی له پاره په تمامه مانا عیاراوتیارشوی و چی دهغو په پایله کی احمد شاه وکولای شول له هغودڅان اوهیواد په ګټه شعوری کاروخلی . احمدشاه بی شکه وکولای شول چی له دغو تاریخي شرایطو اوحالاتو دڅان ،هیواد او آسیا په ګټه کاروخلی نامتو هندي لیکوال ګنډاسینګه د درانی احمدشاه دکتاب لیکوال اودهند دشلمی پیړی نامتو مؤرخ هم داحمدشاه په با ب په همدغه اصل بانډی تاکیدکوي او په احمدشاه بانډی دآسیا ددغه وخت د اړتیا له مخې دیوه نامتو واکمن په توګه همداسی قضاوت اوخبری کوي. دی هم دا وایی چې هرڅوک کله پراحمدشاه دراني بانډی خبری اوقضاوت کوی ، هغه باید داسی وی لکه چی دآسیا دیوه امپراتور په باره کی ویل کیږي اولیکل کیږي . داپه دی چی په احمدشاهي واکمنی کی آسیا له هرډول بهرنی زور زیاتي اوتعرضه په امن اوامان کی وه. ددرانی امپراتوری ماته وه اود آسیا دبدمرغی پیل، دهغی په رانسکوریدو سره دګردې آسیا دبخت ستوری راولوید اودغه وچه دبی پروایو په پایله کی دلودیزوالو دظلم منګولو ته د اوږدې مودې له پاره ورولویده. دهیواد نامتو مورخ اروا ښاد غبارهم داحمدشاه دواکمن کیدو په باب په همدی نظردی اولیکی چی : " احمدشاه بعداز پادشاه شدن ثابت کرد که آګاه از اوضاع داخلی کشور وهمچنان مطلع ازاوضاع بنفع افغانستان عملاً استفاده کند..." (غبار، مسیرص ۳۵۵) .

احمدشاه په رښتیا هم په دی پوهیده چی دده دویشلي ویشلیهیواد چی په اقتصادی لحاظ هم په وران حالت کی و، په چم ګاوند کی کوم حالات روان دی، هغه ته ایران ورمعلوم و، ویل شوی چی دنادرپه لښکرو کی هندوستان ته تللی و، دهغه هیواد له حالت خبرو، له مرکزی آسیا اوهلته دترکانو له برلاسی هم خبرو،ان چی دآسیا له مکاردشمن انګریزه چی دده تر زمانی پوری یی په هند کی یوازی سوداګری پلمه کړې وه هم بی خبره نه و.یوداسې واکمن چی په دی ګرده مسایلو بانډی خبروي ، دهغوټول اړخونه ورمعلوم وی اودوخت پرنازکیو بانډی په علمی توګه دقضاوت جوګه وي، نو په دی کی شک نشته چی هغه به دخپلی زمانی اوسیمی په تیره بیا آسیا له لویوواکمنانوڅخه نه وی. داباید ووایو چې داشان واکمنان په داسی عینی حالت کی په خپله دتاریخ اوجامعی دطبعی قانونمندی بریا دي چي په طبعی توګه یی دعمل میدان ته راباسی. افغانی ټولنه اود افغانستان تاریخ دخپل شتنه والی په اوږده بهیرکی دملي اوسیاسي مسایلو په اړوند یوه ناخبره اوپه خوب ویده تاریخ، ټولنه اوخلک نه وو، په دی مانا چی دوی دتاریخ په اوږدو خپل واک دداسی چا په لاس نه دی ورکړی چی هغوی به **(لکه د ننې لاسپوڅي اوکوداګیان)** په تصادفی توګه د مرخړي په توګه راپورته شو ي وو . همدا اوس چی افغانستان دتاریخ دا اوسني بدمرغه حالات زغمي ، داهم یوازې له همدې امله دي چی دغه ملت پرهرڅا بانډی دخپلی مشری له پاره باورنه شي کولای،همداده چی له همدغه امله دخپلوتاریخي دښمنانو دکینې اوکرکې په لمبوکي دخپلو همسایه ګانواونړیوالو زبیښاګرو له خوا سوي اوسوزي.
لوی احمدشاه بابا دخپلې واکمنی په دوران کی دخپل هیواد دپیاوړتیا اویووالي په برخه کي دپاملرني وړکارونه ترسره کړي دي چی دیوشمیریي په لنډیز سره دلته یادونه کوو:

١ په آسیاکی دافغانستان (پخوانی آریانا اوخراسان ) په نامه دیوه خپلواک اوپیاوړی دولت اساس اوایجاد.
٢ په ګرد هیوادکي دزمکوالی دنظام برلاسی اوپیاوړتیا .
٣ له شماله ترجنوبه اوله ختیزه ترلویدیزه دهیواد دګردو اوسیدونکو ترمنځ یووالی اوپیوستون.
۴ دخپل هیواد له تاریخی پولو اوواکمنی ساتنه او دفاع.
۵ له فارسه ترکاشغره اوله نیسا تردهلی پوری دتاریخی هیواد اوآریانی تمدن دفکري اوفرهنګي لارو چارو پراختیا اودهغو له پاره دودې اوپرمختګ هڅي او کوښښونه .
۶ دافغاني اواسلامي قلمرو ددفاع اوساتنی په موخه دنوي اومنظم پوځي سستم جوړول .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

۷ دبیلابیلو مذهبونو دپیروانو ترمیان دتفاهم ،همکاری اوروغي جوړي د فضا ایجاد ، په تیره بیاپه فارس او هندوستان کی چی تردغه مهاله په دغه برخه کی زیاتی ستونزی اوتوپیرونه دلته ترسترګو کیدل.
۸ دیوي نوي اوسالمي اداري اساس اوایجاد چي په راوروسته کي یي په هند اومرکزي آسیاکي دشیرشاهي اداري سیستم په شان اوووړتیا سره پراختیا ومونده.
۹ داسلام مقدس دین ته زیاته پابندي چي ددراني امپراتوری اودولت اسا س پرهغه باندی ولاړاو اوچت و.
۱۰ دهیواددبیلابیلوقومواواوسیدونکو پشتنو، تاجکو، هزاره وو، ازبکو ، بلوچواونورو ته ددوی دوړتیا په پام کی نیولو سره په دولتی اداره کي برخه ورکول.او همداراز له دولتي امتیازو څخه دخپلوزامنو پرته له تیمورشاه دنورو لري ساتل.

احمدشاه دخپلی واکمنی په (۲۶) کالو کی دافغانستان ګاونډیو هیوادو ته دبیلابیلو سیاسي اونظامی اهدافو په خاطر لښکرکشی ترسره کړي دي چي یوه هم له دغو هیوادو هندوستان ته وه. فارس یا خراسان ته داحمدشاه لښکرکشی پر هغه مهال دیوه باندني طاقت په مانا نه وه ، په دی چی دهغه مهال فارس اوخراسان د دراني امپراتوری او افغان حکمرانی یوه برخه وه اوپیره موده دغه دواړه هیواد ونه له یوه واحد مرکز اصفهان څخه اداره کیدل. اوکلونه کلونه افغانی شازلمو دهوتکی شاه اشرف په واکمنی کی د فارس یا اوسنی ایران له خاوری دیرغلګرو روسانو اوترکانو په مقابل کی په خپلو وینوسره دفاع وکړه اودغه هیواد یی دخپل پلرنی هیواد په توګه له هغوی خوندی وساته. ان ددرانی احمدشاه په زمانه کی هم چی دشاه رخ مسالہ راپورته شوه ، دغه لوی واکمن هغه دیوي داخلي اوملي مسالي په توګه حل اوفصل کړه. هوتکیان دفارس اوخراسان یا اوسني افغانستان وارث واکمنان وو، (۲)
خو احمدشاه دهغه تدبیراوتجربی له مخی چی په خپل درایت سره یي ترلاسه کړي یي وه، ګرد عمرخپلي ترنګین لاندي سیمي له خپل مرکز کندهاره اداره کولي ، دایران اوسیمی دیوشمیرپوهانوانتقاد هم پراحمدشاه ابدالي له همدغ پلوه راپورته شوی لکه چی ایرج افشار یی په خپل نامتو اثر( افغان نامه ) کی لیکی : « پس از آن که نادرشاه افشار کشته شد وبرسرجانشینی اومیان اخلاف وسردارانش نزاع درګرفت، شاید پیش ازهمه احمد خان ابدالي افغانی چانس داشت ...اواګر ازشاهرخ میرزای نابیناه نوه نادرشاه حمایت جدی میکرد . شاید جای نادررامیګرفت ومحتملاً میتوانست وحدت ایران نادری راحفظ کند...» (افغان نامه ج ۱ ص ۱۶۸) .
لکه چی محترم لیکوال اشارکړی احمدشاه څان دهغو یادووشویو ایرانی اوافغاني ګردو ارزښتونو وارث باله ، هغه چي ګرده آریاني اوخراساني ارزښتونه ول ، چی په هغو کی فارس یوازی دیوه ذرې مثال درلود. همداوجه وه چی په دی نژدی وختو کي فارس دخپلی غربیی له مخي دفاشیزم دیوشمیرسیاسي اغیزو په سیوري کي خپل نوم له فارسه پر ایران باندي واړاوه. چي دایراني واکمنانوداکار یوازې اویوازې دیوې سیاسي معاملی په ترڅ کي ، دیوې تاریخي نا چارۍ اوناداری له مخي پرفارسیانو باندی تپلي دی چي دهغوی په نظر، ترتاوان یي فایده په کي زیاته وه ، دوی په فرهنګي اوتاریخي برخو کي له دغي نوموني په افراطي توګه کاراوخیست .داسلام له راتګه راپه دې خوا چي کوم ملی حکومتونه په خراسان کی را منځ ته شوی هغه ټول په هغو واکمنیو پوری تړلي وو چي مرکزونه یي په غزني ، بلخ، غورا وهرات، سیستان کي چي په افغانستان پورې تړلي وو پراته وو.احمد شاه ابدالي هم فارس ته دخپلي امپراتوری دیوې برخي په توګه اهمیت او ارزښت ورکاوه ده هم پردغه سیمه باندی لکه محمود غزنوی،محمود هوتکی اوشاه اشرف هوتکی په شان واکمنی یوازی په یوه کوچنی توپیرسره ترسره کړه .دا احمد شاه ابدالي نه و چي ګواکي دافغانستان په ایجاد سره لکه چی افشاریي لیکي خپله یوه برخه (فارس ) له لاسه ورکوی بلکه دا د فارس هغه بی کفایته اوپه نورو پوری تړلي واکمنان وو چی داحمد شاه ابدالي له مرګه وروسته یي د نورو په تیره انګریزانو اوروسانو په اشارو هغه تګلاره خپله کړه کومه چی دهغي په پایله کي دوی دخپلی پراخی اومقدسي آریاني یا ایرانی خاوری دتمامیت په مقابل کی دتجزیي اوبیلتانه هغه شان لاره غوره لکه چی په لویدیزکی رومیانو دیونانی تمدن اوخاوری په مقابل کی غوره کړي وه.رومیان داسی خلک نه ووچی دیونانی تمدن له چوراچپاوله پرته دی بل کوم کار ددوی له وسه پوره وای . همداوه چی رومیان دیونانی تمدن اوفرهنګ دچوراچپاول په پایله دیوه تاریخي او پیاوړي تمدن او فرهنګ خاوندان شول چی تراوسه پوری دیونا ن له فرهنګي تمدني وړتیا وروسته ددوی نوم ( روم اورومي تمدن) دجهان دفرهنګ اوتمدن په تاریخ کی یادیږي ،همداسې چاره فارسیانو دافغانانو او افغاني فرهنګ د غارت په برخه کي ترسره کړي ده .

---

۲ _ایرج افشار که څه هم دغي موضوع ته په غرضي ترګه اشاره کړي چي دلته یي یادول دپاملرني وړاوضروري ایسي هغه لیکی:
« دورۀ سلطنت غلزاییان با خلع شه سلطان حسین وتاجګذاری محمود شروع میشود. بدون شک این هم یکی از سلسلۀ پادشاهان ایران است. افغان درآن موقع اسم یک ملت ودولتی بنام افغانستان نبود که برملت ودولت دیګری که ایران باشد فائق آمده باشد. بلکه قندهارآن موقع شهری ازشهرهای ایران ومیرمحمود یک فرد ایرانی ازطایفۀ غلزایی افغان بود درحقیقت پادشاهی بجای پادشاه دیګری به سلطنت رسیده است. وسلسله ای بجای دودمان دیګرمستقر ګردید . حتی پایتخت هم ازکشوری به کشور دیګر منتقل نشده بود. مورخانی که نخواهند محمود واشرف را ازسلاطین ایران بشمارند اشتباه می کنند... » ( افغان نامه ج ۱ ، ص ۵۶۶ چاپ تهران )


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په غیر و لولئ

صادقانه باید اعتراف وکړو لکه چی شاغلی افشار هم په دی باور دی چی پرایران باندی دفارس دنامه تغیر، او بدلون نه یوازی دیوی پلازمینی ، دیوی کورنی اونه هم دیوه نظام دبدلون دسوال په توګه مطرح دی بلکه له دغه بدلون سره په حقیقت کې دیوه (فرهنګی چوراوچپاول) چی فارسیانو دایران دنامه ترپرده لاندې عملي کړهم طرح کیږي .
موږ هیله من یو چی زمانه یو واربیا په خپله غیره کی داسی اتلان اوبچیان را پورته کړي لکه غزنوی محمود ، هوتکی شاه محمود اوهوتکی شاه اشرف اولوی احمد شاه باباچی وکولای شی دخپلی دغی لویی اومقدسی آریانا(یاد ایرانیانو په وینا دلوی اوربښتنی ایران) دیوالی اوپیوستون کاربیا له سره راپیل کړي .
په هرډول، دلته یوبل اصل هم رایادوو اوهغه داچې احمدشاه دخپلې واکمنی په دروان کی دفارس پر لور ددغه هیواد ددشمنانو اولاروهونکو (قطاع الطریقو) پرضد لښکرکشی وکړې چی دلته یی په۱۱۶۳ ق کال کی دګناآباد ، مشهد ، نیشاپور، شین ډنډ اواصفهان اوخبوشانو اوهمدارنګه په ۱۱۶۷ق کی دتون پرکلااومشهد باند ې ورتګ و چی دافغانستان چورشوي او تالان شو شتمنی یی بیرته ترلاسه اوهیواد ته راوړې دهمدغو سفرونو په اوږدوکي وو چی احمدشاه ابدالی وکولای شول په یوشمیرښارونولکه مشهد اونوروکی دیوشمیروډانیو په جوړولوهم لاس پورکړا، د مشهدپه حلوایی اونورو سیمو کی داحمدشاهي کلا اونوروخایونو آبادول یی یوه بیلګه ده.
داخو هغه سفرونه وو چی احمد شاه دفارس پر لور ترسره کړي دي.همداسي احمدشاه دیوشمیرنورګاونډیوهیوادوپر لورهم سفرونه کړي چی دهغوپه باب هم له یوشمیرکسانو سره یوشمیرپوښتنی داسی چی دتاریخي تحلیل پراسا س باید ځواب شی راپورته شوی چی یوهم په دی اړه هند ته د دراني احمدشاه سفرونه دي . دتاریخ په اوږدو کي دا سفرونه په دواړو لحاظو مثبت اومنفی ارزول شوي دي اوهرچا خپله خپله رایه په دغه باره کی ویلی ده چی دلته موږهم یو وار بیا ددغه تاریخي مضمون په ترڅ کي هند ته د احمدشاه ابدالي د سفرونو او سوالونو موضوع مطرح کړي اویوشمیرهغوپوښتنو ته مو ځوابونه ورکړي چی هغه په دغه اړه دهرچا ( کس اوناکس ) خولو ته لویدلي دي .
په لاندې ډول:

**الف : مرهټه داروپایانو په مقابل کی عمده اودپاملرنی قوت نه وو!**

داحمدشاه ابدالي په باب یو ه له هغو مسألو چی حق ناحق زیات بحثونه پری کیږي ، هغه ګاونډیو هیوادو په تیره بیا هندوستان ته دده دلښکرکشی موضوع ده . په دغه باره کی زیاتو کورنیو اوبهرنیو لیکوالو اوتاریخ پوهانوخپلي نظریې ویلې اولیکلې دي اوخپلی نظریې دیولړتاریخي اسنادو (هغه چی یوازی ددوی له پاره معتبردي ) اوکله هم داخلاقی قضاوتونو چی هیڅوک له هغو پریوه خوا نه شي پاتی کیدای راچورلولي دي. اخلاقي قضاوتونه معمولاً انفرادي اړخونه لري چی د دنیا خورالوی واکمنان اوحتی په زیاترو وختونوکی پیغامبران هم له هغو پر یوه خوا نه دی پاتی شوی.خو سوال دا دی چی ترکومی اندازی کیدای شی موږ له نوموړي اصله په علمی اوتاریخی حقایقوکي د قضاوتونو په توګه کار اخیستلای شواوپایی ترکومه حده په خپلو تحلیلونو کی کارولای شو. ؟
داحمدشاه ابدالي په باره کی هم یوشمیرسوالونه اوقضاوتونه په بیلابیلووختوکي شوي چی یوه ته یي اروانښادغبار هم دنورو په تقلیداشاره کړي اولیکلي یي دي :
" دولت قوی مرته (مرهټه ) که درراه پشرفت قوای اروپاییان سدی بود، درین سال از هم شکست ، پیشوای بزرګ مرته چشم ازجهان پوشید و پیشوای چهارم با قوای باقماند..." ( افغانستان درمسیرتاریخ، ۳۷۰ مخ )
ددغه سوال دویم جز هند ته داحمدشاه دحملو په باب دی چی آیا داکار ده په خپله اراده وکا اوکه په دغه اړه کوم بل عامل هم و؟
اودریم جز په دغه باره کی دادی چی احمد شاه کله هندوستان ونیو نو بیایي ولي هندوستان په خپل لاس اوواک کی ونه نیو اوولی یی په خپله اداره نه کړ؟
دلته ددغو دری واړو سوالوپه باب یوشمیریادونی لرو چی سره لولویی ،
لومړی، ترهرڅه دمخه باید ووایو چی داحمدشاه ابدالي هڅې او پرهندوستان باندې دهغه یرغلونه ددی له پاره نه وو چی ګواکی احمد شاه ژمنه کړې وه اویایی هوډ درلود چی باید هندوستان ونیسی اونه یي داحملی دخپلی واکمنی په پراختیایی پلان کی وی. بلکی داکاراحمدشاه ابدالي ته د یوضمنی اوانساني مسولیت او رسالت په توګه ورغاړې شوهغه هم په داسی شرایطو کی چی هغه دخپلی واکمنی داستحکام اوپیاوړتیا، د امنیت اود یوځ د جوړتیا اومنظم والي،دیوملي تفاهم اودولت جوړونه،هغه څه چی په عین حال کي هندوستان هم پردغه مهال له لاسه ورکړي ول بوخت شو. احمدشاه دراني دخپلې واکمنی په لومړی مرحله کی پر دی وتوانیده چی دغو ستونزو اونیمګړتیاووته په بشپړه توګه دپای ټکي کیږدي اوویی کولای شول چی یوپراخ بنسټه اود آسیا په کچه یوملي حکومت او واکمني رامنځ ته کړي.
دویم ، په دی کی شک نشته چی مرهټه په هند کی یوداسی شریرځواک و چی تل یی ددغه هیواد په اوږدو او لنډوکي پاریدونکي جګړي ان داورنګ زیب له عصره را په دیخوا هرچا ته معلومي اودپاملرني وې شیواجي دهمدغي لړی بنسټوال و، پرهغه مهال چی خوشحال خان اوایمل خان داورنګ زیب پرضد مقاومت پیل کړاو اورنګ زیب یونیم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کال په حسن ابدال کې د پښتنود ځیلو په لامل پاتې شو،دهمدغې بوختیا برکت وچې شیواجیانو اوپیروانویې ځان پیاوړی کړاودمغلي دولت په وړاندې په پیاوړتیا سره را وپاریدل او د اورنګ زیب له مړیني وروسته یې خبره د اوسني مهاراشترا ( پونې ) په شاوخوا کې په داړو اوغلاوو باندې پیل وکړ، داچې وایې داحمدشاه بابا په دوره کې یوپیاوړی ځواک و، داخبره یوڅه له قضاوته لرې خبره ده په دې چې په دکن کې نظام واکي دومره پیاوړې وه چې هغې خوا ته مرهټه نژدې ورتلای نه شول ، په راجستان راجپوت له دوی سره په هیڅ ډول یولاس نه وو، په شمالي هندوستان اوبیهارکې مسلمانان چې هرڅه یې په واک کې ول له دوی سره په هیڅ ډول په یوه لاره نه وو ، سیکان اوجټان بل ځواک وو چې له هرچا سره یولاس کیدل خو له مرهټه وو یې نه مال اونه هم عزت خوندي وځکه خوورسره نه وو. په عین حال کې داهم باید له یاده ونه باسوچې په هند کې که له مرهټه وو یادشوي قومونه وایستل شي نوردوی دومره ځواک چې انګریزانو ته خنډشوي وای له کومه کړ؟ په دغه حال کې موږ اویاهم نورلیکونکي څنګه داخبره په کرسۍ کینولی شو چې ګواکي مرهټه په رښتیا هم دومره پیاوړی ځواک و چې دوی به هندوستان له انګریزانو څخه خوندي ساتلی وای ؟

ځکه خودا خبره لږ دهغوی له پاره چې مرهټه ته دیوه پیاوړي ځواک په سترګو ګوري دیاونې وړده چې دوی نه دهندوستان له تاریخی حقایقوخبردي اونه هم د احمدشاه ابدالي له پیاوړتیا څخه، هندوستان په دغه وخت کې هیڅ ډول ملي جوړښت نه درلود اونه دا شونې وه چې دغه ملک دې دیوه پیاوړي ځواک داکه هرڅوک وو ( ابدالي اوکه انګریزان ) په مقابل کې مقابله اومقاومت وکړای شي. په هرښار اوهره سیمې کې یو راجا او نواب ناست ول چې ټول عمریې دخپل ځان او واک د پیاوړتیا په خاطر ترځان پیاوړي ځواک سره سازشونه اومعاملې کولې. پردغه مهال چې احمدشاه ابدالي پرهندوستان راغی دمعتبرو اسنادو له مخې دغه ټولو راجاګانو اود نورو قومونو مشرانو احمدشاه ابدالي ته لیکونه استولي چې دغه لیکونه اوس هم دهندوستان په آرشیفونو اوکتابخانو کې شته ( چې څرګندې بیلګې یې دسورج مل جټ ، اود راجستان د پیاوي راجا مادو سینګ کچوا لیکونه دی چې تراوسه پورې هم لاچا نه دي لوستي په دغه لیکونو کې ټول ټینګار د احمدشاه ابدالي په ملاتړاود مرهټه وو پروحشت باندې شوی دی چې باید په ګډه مقاومت ورسره وشي )

بله داچې یوچا تہ چې دهندوستان اوږدوالی اولنډ والی اویاهم ددغه هیواد تاریخ اوجغرافیه نہ وی معلوم ، هغوی داسی فکرکوی چې مرهټه په رښتیا هم داسی یوځواک و چې تیاریی احمدشاه تہ پہ پانی پت کی مخکی لہ مخکی سنگر نیولی و،نہ داسی نہ وه، مرهټه وو تردغه وخته نه سیکان آرام پرېښودل، نه جټان اونه هم راجپوتان ، پنجاب یی مسخرکړ ان تر لاهور پورې په سخت وحشت سره مخ په وړاندې ولاړل ، کله یې چې داحمدشاه ابدالي د راتګ واوریدل، نوبیرته له پنجابه په تیښته شول، سورج مل جنګونه ورسره وکړل مانا داچې مرهټه وو مخکې تردې چې له احمدشاه ابدالي سره مخامخ شي، هغوی خپل سیاسي اوملي دریځ اوځواک په هندوستان کې له لاسه ورکړی و.

دپورتنیوحقایقو په رڼاکې چې زیاترو لیکوالو دغه موضوع مطرح کړې، دا هم دیادولو وړده ، کله چې موږ داخبره کوو چې مرهټه ووته د پیاوړتیا لوی چانس په شمال کې د پښتنوغورځنګ ورپه برخه کړاوکه نه د دوی د کمزورۍ او بیواکۍ خبره د تاریخي اسنادو له مخې ان د شاه جهان له عصره را په دیخوا پیل کیږي :« اورنگ زیب تقریباً دخپل خواږه ژوند دیرش کالہ یوازی اویوازی دمرهټه وواودکن دځپلو پہ کارکی تیرکړل، چی پہ خپل ژوند خپل دغہ هدف تہ ورسید.خولہ دی سره سره یی ونہ شوای کولای چی ددغہ خطر ریښی پہ تمامہ مانا لہ بیخہ وباسی اوداخبره دجغرافیایی عواملواولاملونو لہ املہ تری پر یوه خوا پاتی شوه. ددکن جغرافیایی موقعیت داسې وچی پہ هغہ کې دمرهټه وو لہ بیخہ ایستل هم ممکن نہ وو، عالمگیر دمرهټه وو گرد اجتماعی ځواکونه اومقاومت لہ منځه یووړ، لہ اورنگ سره عمر وفا ونه کړه، کہ چیری دده جانشینو دغہ سلسلہ پرمخ بیولی وای اودده وصیت یی پہ دغہ برخہ کی عملي کړی وای اوخپل وختونہ یی دتاج وتخت ترلاسہ کولو پہ کارکی نہ وای ضایع کړي دا یو روښانه اوانکارنہ کیدونکی حقیقت و چی دمرهټه وو ځواک اوواک نور دتل لہ پاره پای تہ رسیدلی و... » (پہ اتلسمہ صد ی کی هندوستانی معاشره اوژوند ـ د محمدعمر تألیف ـ پہ اردو ژبه ، ۱۹۷۳کال)

دمرهټه وو په وړاندې په هندوستان کې ددې پرځای چې مقبولیت ولري برعکس درنه کرکه مخ په زیاتیدوشوه، ددغه ټکي لامل ترهرڅه دمخه دمغلي پاتې شونوبی کفایتی اودیوه مرکزي پیاوړي حکومت نشته والی و. دمرهټه وو په وړاندې دا کرکه هم د پاني پت ترجګړې دمخه وه اوهم وروسته،مرهټه او مغلي بیواکه شهزاده ګانود هندوستان ټولنیز اواقتصادي جوړښتونو اوټولنیزو وړتیا ووته په خپل پیاوړي افراطي چلند سره لوی زیان ورساوه چې دغه ټکی په هندي ټولنه کې ددوی دماتې اوسراسري نه ملاتړ لوی اوتاریخي لامل هم بلل کیدای شي.

دتاریخي حقایقو په رڼاکې اودهغه عصرد حالاتودتحلیل په ترڅ کې دیوه نه انکارکیدونکي اصل په توګه په دغه اړه د هندوستان له تاریخه په دغه اړه چې که مرهټه نه وای ځپل شوي نودوی به په هند کې د انګریزي استعمار له پاره د برلاسي لاره چاره نه وای برابره کړې. په دغه اړه دا یوتاریخی حقیقت بایدپه ناپیلې توګه ووایوچې مرهټه د احمدشاه ابدالي ترراتګ دمخه او وروسته کوم منظم چې دهندوستان خلک دې پرې راټول شوي وای نه وو. یوازنۍ ټکی چې په دغه اړه دیوه تاریخی دلیل په توګه یادولای شي هغه دا دی چې دوی په خپل نامنظم حالت کې د مغلي بی اتفاقه شهزادګانوله کمزورۍ څخه دخپل شرارت په خاطر ښه ګټه وکړه. په دغه اړه داهم څوک نه شي ویلای چې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مرهټه یولوی ځواک وو، له مرهټه ووسره دهند په جنوب کې یوشمیرانفرادي کسان هغوی چې داورنګ زیب له زماني را په دیخوا د ګلکنډې ، بیجاپور، اونظام د واکمنیوپه شاوخواکې میشته او داسې یوه فرصت ته سترګې په لاره ول. په دغه ټکي هم تل سترګې پټې شوې،مرهټه چې دومره پیاوړې ښکاریدل، لامل یې داو چې ددغو فرصت غوښتونکو ورته ډلو چې زیاترو یې دارویایی هیوادو اونورو له پاره یې استخباراتی فعالیتونه کول نیم بنده ملتیا ورسره وه چې په هغوکې یوشمیر مسلمانان،عیسویان اواروپایان وو، که چیرې هندوان پرتاریخي حقایقوباندې سترګې نه پټوي نو دپاني پت دجګړې ترټولو پیاوړی احمدشاهی ضد ځواک هغه مسلمانان جنګیالي ول، هغوی چې دپښتون ابراهیم ګاردې ترقومانده لاندې یې د ټول مرهټه پوځ د توپچي بولندویی په لاس کې وه، کوم زیانونه چې احمدشاهی پوځ ته ورسیدل دهمدغه ځواک له لاسه ول، په دغه جګړه کې مرهټه دومره لوی ځواک نه ول چې هرڅه په ځان ختموي اود نورو ډلوبرخه اخیستنه نه مني.خوپاني پت دا ثابته کړه چې په دوی کې دومره ځواک نه و چې هغوی د په خپلواکه توګه دیوه پراخ مقاومت ویاړدځان کړی وای. په دغه اړه د سر.جې . ان سرکارارزونه هم باید له پامه ونه غورځوو لکه چې لیکي :

“ no attempt at well- thought – out organised communal improvmmet, spread of education, or unification of the people, either under Shivaji or under the peshas. The cohesion of the peoples of the Maratha State was not organic but artificial, accidental and therefore precariose” ( An advanced History of India P 703 )

« هیڅ داسې منظمه هڅه چې هغه دې دخلکو دیوهې اویوالي نښه، هم دشیواجي اوهم د پیشوایانو په ترواک لاندې وخت کې چې دیوه منظم سازمان څرګندونه وکړي په مرهټه ووکې نه وه. د مرهټه وو کوم یوالي اوسازمان چې رامنځ ته شوی و دا په خپل ډول کې یومصنوعي ، تصادفي او ان چې خطرناک یووالی و»

بله مهمه تاریخی یادونه په دغه اړه داده چې لہ احمد شاهی دوری وروستہ بیاهم پہ هندوستان کی دپاني پت بګلیل شوي پاتي شوني راجہ سندهیا اومهاراجا هلکردمرهتہ وو مشران وو، دوی له پشتون نواب امیرخان سره لاس یوکړ اودا ژمنه یې سره وکړه چې دانګریزانو پہ مقابل کی بہ لہ هندوستانہ ننګہ کوی. خو کلہ چې په ۱۸۱۴ کال کې نواب امیرخان (هغه چا چې انګریزانو به یې په اړه ویل چې ترڅودی ژوندی وي موږ به پرهندوستان واکمن نه شو) وغوښتل خپل ځواک د پښتنو په ملتیا د انګریزي مقاومت له پاره پیاوړی کړي، پرهمدغه لامل یې خپل اړیکي ترپښتونخوا اوافغانستانه پراخ کړل او ژمنه یې کړې وه چې انګریزان به له هندوستانه وباسي، خو کله چې د رښتیا میدان راغئ، دهغه دارادې خلاف یې له انګریزانو بدې اورشوتونه واخیستل اودنواب امیرخان اتحاد یی مات کړ »
( تاریخ ټونګ، په اردو ژبه ، محمد اعجازخان تالیف ، ۱۹۸۳کال ، ۵۱ -۵۳ مخونه )
په هرصورت،دمرهټه وو په باب چې دوی به دانګریزانومقابل کې ځواک ول په دغه اړه زموږ یوشمیرناخبره لیکوال اوس هم یوازې دیوه غیرشعوري تفنن پہ توګہ پہ دی خاطر چی حقایق تحریف کړي اواحمدشاه غوند ې لوی بریالی افغان واکمن هم بې داغہ تری پاتی نہ شي اوس هم دغبار اونورو روسي اوهندي تش په نامه کېن اړخو لیکوالوڅخه کاپي کړې تکراروي اوتکراروی. پہ داسی حال چی تاریخی حقایق او اسناد داخبره پہ دومره سادګی سره نہ منی اونه هم داسی ده .مرهتہ وو پہ خپل وخت اوزمان کی زیاتو منفی مسالو تہ لمنہ ووهلہ ، دوی یوازی دشیواجی پہ دوران کی هغه هم لکه چې ما یادونه وکړه دخپلو مسلمانو متحدینودملتیا اودهندپه شمال کې دخوشحال خان اوایمل خان دمقاومت له برکته دمغلو( اورنګ زیب) پہ مقابل کی یومقاومتي ځواک شو چې هغه هم د اورنګ زیب له خوا په ملا مات شوی و، داسې ملامات ځواک چې له اورنګ زیبه وروسته یې دننده یوازې غلا اوباجونه ول چې هرځای ته به ورسیدل هلته به یی خلک ترستوني راوستل، دغه ټکي نامتو روحاني شاه ولی الله دهلوي هم دمرهټه ووپه اړه په خپلو لیکونو (مکتوبات) کې په ډاګه ویلی دی لکه چې لیکي :
« ... واز مسلمانان وهنود باج گرفتند وآنرا چوتھ نام نهادند یعنی ربع الحاصل..."(مکتوبات سیاسی شاولی الله، پہ اردو ژبہ ۱۹۵۰ کال ۴۷مخ)

دریم: یوه بله دپاملرنی وړموضوع چې یوشمیرتاریخ لیکونکي پرهغی پہ شعوري اوغیرشعوري توګہ ځانونه نہ پوهوی اویایی تری پریوه خواکوي چې هغہ پرهندوستان باندې دفارس دافشار نادریرغل دی چې ترډیرې کچې پورې دغه یرغل هم پراحمدشاهی عصرباندې خپل ناوړه سیوری اچوي. اوزیاتره لیکوال یې په خپلو لیکنوکې نه یادوي ، دوی دا نه وایی چې مرهټه دغه تش په نامه لوی ځواک دهغه دیرغلو په وخت کې چیرې و اوکوم دریځ یې درلود ؟ په بدمرغه دوره باندې هیچاهم څه نه دی لیکلي، ځکه خو وړده چې یوڅه رڼا پرې واچوو ، په دغه باره کې ترهرڅه دمخه باید هغه حقایق راواخلو کوم چې ددغې تورې دوری پہ وحشت کی هندوستان وزغمل اودغہ دشرم مثال هم داحمدشاه په وړاندې په خپل دوران کی همداسی پہ خپل وحشت سره پاتی و ان چې تراوسه پورې هم په هندوستان کې په عامه کچه دنادراواحمدشاه ترمنځ توپیرنه شي کولای.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دنادر یرغل پرهندوستان باندی هغه له شرمه ډک یرغل و، چې تراوسه پورې هغه دانسان او انسانیت دننګ اوشرم په توګه دهندوستان په تاریخ کی لا همداسې پاتې دی. دنادریرغل چې باید دهندوستان دبدمرغیو ټول مسولیتونه له همدغه یرغل سره په ارتباط کی مطالعه اوتحلیل شي دزیاترو لیکوالو له یاده وتلی، دنادرافشاردغه یرغل دهغوټولونارامیو اوناکراریو پیلامه وه چې وروسته احمدشاه ته وردغاړې شول، دهندوستان په تاریخ په تیره بیاد ډیلی دښارپه اړه دنادرشاه خونړی یرغل،دمرهټه وو دچوراوتالان اوهمدارنګه د انګریزانوهغه ناتارچې په ۱۸۵۷ کال کې یي پردغه ښار ( ډیلي) باندې وزغمل دری واړه یوماهیت اوورته والی لري. نادرچې کوم مالی اوځانونه تاوانونه په ډیلی کې دخپل عام قتل په ترځ کې هندوستانیانو په تیره بیا دډیلی مسلمانانو ته ورسول، هغه ټول ددې لامل شول چې باید دهندوستان ولسونه دیوه داسې ځواک لکه مرهټه وو پرظلمونو باندې شکروباسی .دنادریرغل په خپل وارډیلی له داسې تالان سره مخامخ کړچې د نسلونو نسلونو معنوي اومادي ارزښتونه یي له یوې دوامداری غمیزې سره مخامخ کړل.

د یوه هندی لیکوال،شیوداس لکنهوی په قول : « کوم چوراوچپاول چې نادرله هنده ترسره کا، دهغه اندازه دنغدوپیسو، اسونواوفیلانواودهغو دسازواوسامان سره، سره اوسپین،لوښي او جواهرات، یوارب اواتیاکروړوته رسیده ...» اود انندرام مخلص په وینا ترګردو یی مهمه لاداچې دهندوستان آبرواوعزت (تخت طاووس ) یی هم له ځان سره فارس ته یووړ.

په سیاسی لحاظ هم دغه یرغلونه په خپل ډول کی هغه یرغلونه وو چې دهغو په پایله کی نادردهند په ټولنه کی دمغلی شاهانو شان اوشوکت،دهغو وقاراوحیثت ته هم په خپل راتګ سره سخت زیان ورساوه . نادربرسیره پردی چې دغه هیواد یی لوټ کړ، په خپلوحملو سره یی ددی له پاره هم لاره پرانسته چې ددغه هیواد په بیلابیلوبرخو کی غلواوداکوانو داتوان ترلاسه کړچې دمغلی مرکزی دولت (کمزوري یاپیاوړي) پرضد یی ستونزې اوپاریدنی پیل کړي دغویرغلو « ...مرهټه وو، انګریزانو ، سکانواونورو ته دالاره اواره کړې چې دواکمنی پرپلازمینه دهلی باندی یرغلونه راپیل کړي ،مرهټه وو په عین حال دبنګال اوبهار په غارت اوچپاول باندی لاس پورکړ، سکانو دپنجاب په ورانی وروبلوسیدل، چې ددغوګردوغلواوډاکوانودخپلو ناوړتیاوو په پایله کی ګردې لارې بندې اوورانی شوی... » (ژوند، اوهندوستانی معاشره په اتلسمه صدی کی ، دمحمدعمرلیکنه ۲۹ مخ)

نادرافشارپه رښتیا هم په هند کې له هغو پاچاهانو څخه یوشو چې په هندکی یی داسلامی واکمنانانو دسیاسی نظام اساسات هغه چې د اسلامي اوخراسانی فرهنګ پربنیادپرمخ تللی وو له بیخه وایستل ، دنادردغه فرهنګی ضد کوششونه په هندکی دفارسی دری ژبې اوفرهنګ چې دافغانی واکمنانانو دهڅو په برکت دهندوستان درسمي ژبې دریځ ته رسیدلي وه دسقوط اصلی پیل و چې پای یي دغه اوسني حالت ته دانګریزانواوانګریزي ژبي له امله راورسید، دغه حالت چې اوس خو فارسي لاڅه چې داردوژبی اوادبیاتو له پاره هم دزوال مقدمه نادراودهغه یرغل شو.

د ۱۱۵۱ق کال دډیلی دعام وژنې ( قتل عام) غمیزه له هغه مثالویودی چې دهند مسلمان ملت به هغه دخپل تاریخ پرمخ کله هم دیوی ساده پیښې په توګه نه وویني اونه به یي له پامه وغورځوي . دغه حادثه ددهلی په ښارکی چې اوس یی دزاړه ډیلي په نامه سره یادوی رامنځ ته او ترسره شوه، دلته چې هغه دلال قلعی او جامع جومات اوچاندنی چوک او شاوخواسیمی وی.دغه جنګ دیوې آوازې له مخې چې ګواکې نادروژل شوی دسهار له اتو بجوپیل شو. خلکو پرفارسیانو یرغل وکا،دهغو یوشمیریی ووژل،نادرخپله له لال قلعی راووت ،په چاندنی چوک اوسنهری جومات(اوسنی کوتوالی)یی ددغه عام قتل امرصادرکا. دجومات اوصرافه بازارترمیان په زرګونو خلک ووژل شول، په زرګونو میرمنې چې د ورځنی سودا اخیستو له پاره بازارته راوتلی وې ، یوه هم بیرته خپل کوراوکورنی ته ونه رسیده اود (خانم بازار) په برخه کی په وینوکی راولویدی ، ایرانی پوځیانو دجواهراتو اوزرګریو دکانونه مات اوغلا کړل.چې داتاریخی غلاووژنه دورځې تردریو بجو پورې روانه وه.یوسل اوشل زره تنه په دغه ورځ ووژل شول اوپنځلس زره نورزخمیان شول. طباطبایی لیکی چې دغه عام قتل ترماسپښینه روان و، دوینو ویالی وبهیدی،لارې اوکوڅې په جسدونو ډکې وی او تګ راتګ پری ناشونی شوی و. چې په پای کی امروشو: چې جسدونه دی له لاروکوچو لرې کړل شي ،هغه جسدونه لکه خاوری خاشې له کوڅو په یوه ځاکړل شول ...(دزیاتو معلوماتو له پاره سیرالمتاخرین ۲جلد ۱۱۰مخ په اردو ژبه)

داردو ژبی یوه شاعر اشرف علی پیام دیوه شعرپه ترځ کی ددغې غمیزې داسې انځورکښلی دی :

دهلی کے کجکلاه لڑکوں نے کام عشاق تمام کیا

ایک عاشق نظرنهیں آتا ٹوپی والونے قتل عام کیا

(اورینتل میګزین ۱۹۴۱ کال، ۱۳۳ مخ )

اودغه غمیزه ترهغه وخته هم لا دډیلی دخلکو په خولو کی وه او له یاده یی نه وتله کله چې ۱۸۵۷ م کال کی انګریزانو په همدغه ځای کې په عین فاجعه باندی لاس پورکړ، اودلته یی دبی ګناه خلکواودهند دآزادی پرانقلابیونوباندی څپاووروړاوویی وژل ، ددیوبند یو عالم ددغی انګریزي فاجعې یوتصور باسی اولیکی چې : «وحشی نادرهم داسې ظلمونه چې ددهلی دفتح په بهیرکی انګریزانو پردغوخلکوباندی وکړل نه وو ترسره کړي ، دعامو خلکو په مخ کی په دارپورته کول، هره ورځ پنځو شپږو تنو ته داعدام جزا ورکول....



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

" (نقش حیات، سیدحسین احمدصاحب مدنی، ۲ج ۱۹۵۴ دیوبند، ۴۷مخ)
باید یاده کړوچی ددغی غمیزی زیاتره قربانیان ددهلی دښارمسلمانان وو، ددوی په زرګونودلته شهیدان شول اوزرګونه ماشومان اوښځي دلته ددغو نادری مظالمو په اورکی لولپه شول ، په لسګونه جوماتونه اومدرسی چی مسلمانو هلکانو اونجونو په کی درسونه ویل د چاندنی چوک ، جامع جومات اولال کلاه ترمیان له خاوروسره خاوري کړل شول. نادری پوځیان دومره وحشي شوي وو چی نه یی مسلمانان وکتل اونه هم هندوان هرڅه چي پرمخ ورغلل هغه یی تالان اواوسیدونکی یی شهیدان کړل .دوی دافکرونه کړ چی دوی څوک وژني اوولي یی وژنی؟ ددغی اوژدی کیسی یادول په دی هدف وو چی داسمه نه ده چي ووایو احمدشاه په هندوستان کي دانګریزي استعمارپه وړاندې هندي ځواکونه (مرهټه) ووهل اوکه دا کار نه وای شوی نوبس هندوستان به مرهټه وو غونډې لوټمارو له انګریزانو ساتلی وای ؟ نه داسي نه وه ، هند ته داحمدشاه راتګ خپله موخه اوخپله ځانګړتیا لري ، خوکوم قوتونه چي تراحمدشاه ابدالي دمخه دلته راغلی وو هغوی وو چي په هندوستان کي يي دانګریزانو دبرلاسي له پاره لاره پرانیستلې وه اوداهغه تاریخي فکت دی چي دهغه مسوولیت په غیرشعوري اونا خبره توګه پراحمدشاه ابدالي اوپاني پت باندې پای ته رسیږي ، خو تاریخي حقایق اواسناد داخبره نه شي منلای ځکه داسي اسناد شته چي احمدشاه ابدالي خپله دانیت درلود چي انګریزان له هندوستان څخه وباسي دعلامه رشاد په یوه څیړنه کي په دغه اړه لولو:
«دلوی احمدشاه بابا له خوا څخه جنګبازخان (۱۱۷۰ هق ) کال د څلورمې خور د میاشتې په (۲۷ ) ورځ ( ۱۷۵۷ کال ) د درو زرو سپرو سره دنواب احمدخان بنګش په ملګرتیا اوملاتړ، د بنګال دنیولو له پاره ګمارل سوی و. (دولت درانیه ۳مخ ، احمدشاه درانی ۲۳۲ مخ ، ) اود حافظ رحمت خان زوی مستجاب خان په خپل اثر ( ګلستان رحمت ) کي داهم زیاته کړیده چي لوی احمدشاه بابا حافظ رحمت خان ته لیکلی و، چي دجنګبازخان بنګش مرسته وکړي. ( ګلستان رحمت ۱۰۴ ـ۱۰۵ مخونه )
د ( افغانستان وهند بریتانوي ) په ۱۹ مخ کي لیکلي دي: « لوی احمدشاه بابا په (۱۷۶۷ ع ) ( ۱۱۸۰ ه ق ) کال اراده درلوده چي انګریزان له بنګاله څخه وباسي، خو له انګریزانو سره د دوهم شاه عالم مغل د دوستۍ تړون اوله احمدشاهی دربار سره نه پیوستون د اوده نواب نا سیاله شجاع الدوله پټ اوخطرناک ائتلاف اوسازش له انګریزانوسره او دپنجاب دسکه قوت نه همکاري د اسلام دلوی حامی اوغازي احمدشاه بابا د زړه دا هیله او آرزو ور پوره نه کړه او دی يي له دې ارادې څخه جبراً منصرف کړ.» (رشاد داحمد شاهی عصرنومیالی ، رشاد اکادمی – کندهار ۲۰۱۵ کال ۱۱۴ مخ )

پاتي لري .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ